مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۰/۱۵

غـــزل

سترګې دې پټې کړه چې څه افت ترې بیا راوځي
له دغو سترګو خو ضرور یوه ورځ بلا راوځي

د دې وطن خلک لګیا د خپلو خپل وژني
دلته له هر کوره په نیمه شپه ژړا راوځي

ستا په خبرو زما هر پرهر تولیږي سره
ستا د نظر له غشو هره ورځ دوا راوځي

یوه خندا د پاتې ژوند په اسرې راکړه روح مې
زړه به یې یاد ساتي له یاده به موسکا راوځي

د هغې زړه هم زما په لور وي خو څه و نه وایي
هغه خیالونو کې هم زما په شان زما راوځي

پېغلې ستا لاس که وي په هره معنا رب ته پورته
زما خو هر مانځه کې ستا په حق دعا راوځي

۲۸/ ۳/ ۲۰۲۰ جلالکوټ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ